مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایبي

۲۰۲۳/۰۵/۱۳

نېکمرغي

Felicità

Happines

«فېلچيته» مشهوره ايتاليوي سندره ده چې د «البانو» او «رومينا پاور» په غږونو کې يې انګازه په نړۍ کې خوره شوې ده. دا سندره په ۱۹۸۲م کال کې بازار ته وتې وه چې يواځې يې په لومړيو دوه مياشتو کې ميليونونه کاپيانې خرڅې شوې وې.

د دې سندرې شعر د نړۍ په ګڼو ژبو ژباړل شوی دی. ما يې پښتو ته له انګريزي متن څخه د ژباړې هڅه کړې ده، ښايي تر دې وړاندې هم ژباړل شوی وي، خو ما چېرې نه دی لوستی. د شعر انګريزي او پښتو متنونه دا دي:

Happiness
is holding hands and going away together
happiness
is an innocent look, in the middle of a crowd
happiness
is staying close like children
happiness, happiness

نېکمرغي
د يوبل لاس نيول، په ګډه لرې تلل
نېکمرغي
د ګڼې ګوڼې له منځ اوتر، اوتر کتل
نېکمرغي
د ماشومانو په څېر، سره نېږدې اوسېدل
نېکمرغي، نېکمرغي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

happiness
is a pillow made of feather, the rivers' water
that flows
is the rain going down the roofs
happiness
is turning off the light so peace can rule
happiness
happiness

نېکمرغي
د سين رواني اوبه، له پرو ډک يو بالښت
له بامه توې څاڅکي، د بارانه د ورښت
نېکمرغي
د څراغ ګُلول، ټول سراسر ارامښت
نېکمرغي، نېکمرغي

happiness
is a glass of wine and a sandwich
happiness
is leaving a note inside a drawer
happiness
is singing together how much I like you
happiness, happiness

نېکمرغي
يو سندويچ او د شرابو يو جام
نېکمرغي
د روک منځ کې، يو پريښی پيغام
نېکمرغي
غبرګو غږو کې دا سندره وېل :
چې پرما څومره ګران يئ !
نېکمرغي، نېکمرغي

You can feel in the air
our love song that flies
like a thought that knows about happiness
You can feel in the air
a warmer ray of sun that flows
like a smile that knows about happiness

ته يې کولی شې هوا کې احساس
زموږ د مينې د سندرې پرواز
د هغه فکر په څېر، چې نېکمرغي پېژني
ته يې کولی شې هوا کې احساس
لکه له لمره بهېدلې توده وړانګه
د هغې موسکا په څېر، چې نېکمرغي پېژني

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

happiness
is a night with a surprising full moon
and the radio that is on
Is a 'happy birthday' card full of little hearts
happiness
is an unexpected call
happiness
happiness

نېکمرغي
سپېني سپوږمۍ ته، د شپې حيران کتل
چالند راديو ته، غوږ - غوږ اوسېدل
ها د کليزې يو کارت، چې وي په زړونو سينګار
نېکمرغي
او ناڅاپي زنګونه، د تليفون وي شرنګار
نېکمرغي، نېکمرغي

Happiness
is a beach at night, the waves that hit the shore
happiness
is a hand full of love put on the heart
happiness
is waiting for the sunrise to do it all over again
happiness, happiness

نېکمرغي
د سين پر ژۍ يوه شپه، د څپو شور او ساحل
نېکمرغي
له مينې ډک يو لاس، ايښی زړګي باندې پاس
نېکمرغي
د لمرخاته انتظار، چې دا ټول بيا تکرار کړو
نېکمرغي، نېکمرغي

You can feel in the air
our love song that flies
like a thought that knows about happiness
You can feel in the air
a warmer ray of sun that flows
like a smile that knows about happiness

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته يې کولی شې هوا کې احساس
زموږ د مينې د سندرې پرواز
د هغه فکر په څېر، چې نېکمرغي پېژني
ته يې کولی شې هوا کې احساس
لکه له لمره بهېدلې توده وړانګه
د هغې موسکا په څېر، چې نېکمرغي پېژني

سندره د لانديني لينک په کېکاږلو اوريدلی شی:

https://youtu.be/tsxwGnDfvWE?t=43

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ